بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

**د هستی نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

چهارشنبه ۱۰ مرغومی ۱۴۰۴ هـ ش | ۱۰ رجب المرجب ۱۴۴۷ هـ ق | ۳۱ دسمبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۲۱)

## د سترې محکمې د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱. په لومړۍ ربعه کې د قضاء او ولس (٤) خپروني، ثبت، جوړې او د سترې محکمې د رسمي ادرسونو له لارې نشر شوې دي.

۲. په لومړۍ ربعه کې د قضاء مجلې (۲) ګڼې (نهمه او لسمه) ترتيب، ډيزاين، چاپ او په مرکز او ولايتونو کې تکثير شوې دي.

۳. په لومړۍ ربعه کې د ميزان جريدې ۹ ګڼې (له ۱۰۳ ګڼې څخه ۱۱۱ مې ګڼې) چاپ او په مرکز او ولايتونو کې تکثير شوې دي.

٤. په لومړۍ ربعه کې د ملک د محاکمو د فعاليتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور زياتېدو په موخه (٤٦٢) خبرونه ترتيب او نشر شوي دي.

٥. په لومړۍ ربعه کې د هجري قمري مياشتې مطابق د محاکمو او نورو امارتي ادارو د اداري اجراآتو د ترتيب په موخه د رؤيت هلال هيئت (۳) خبرتياوې ترتيب، ډيزاين او نشر شوي دي.

٦. په لومړۍ ربعه کې د محاکمو د قضائي فعاليتونو اړوند (۷۷) انفوګرافيک جوړ، ډيزاين او د سترې محکمې د رسمي آدرسونو له لارې نشر شوي دي.

۷. په لومړۍ ربعه کې د ملک محاکمو د فعاليتونو د ښه انعکاس او پر محاکمو د خلکو د باور زياتېدو په موخه د «ستره محکمه په اونۍ کې» (۴۸) خپروني په څلورو ژبو ثبت، جوړې او نشر شوې.

۸. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې اړوند مسؤولينو امارتي او شخصي موټرو ته (۱۲۷) قطعې کارتونه ترتيب او توزيع شوي دي.

۹. په لومړۍ ربعه کې د ۱۴۴۷ هـ ق کال د (۳) مياشتو کاليزه ترتيب، ډيزاين د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو نشر شوې ده.

۱۰. په لومړۍ ربعه کې د ورځنۍ نېټې (۹۰) ډيزاينونه جوړ او د سترې محکمې پر رسمي ادرسونو نشر شوي دي.

۱۱. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د رئيس او قاضي‌القضات شيخ صاحب (۸) جلده (سراج الاحکام) کتاب ډيزاين او چاپ ته لېږل شوی دي.

۱۲. په لومړۍ ربعه کې له رسنيو سره پوره همغږي شوې ده.

۱۳. په لومړۍ ربعه کې د اسلامي عدالت (۲) خپروني ترتيب، ايډيټ او نشر شوې دي.

۱٤. په لومړۍ ربعه کې د قضاء کتابتون د کتابونو (٤٢) لېستونه ترتيب او ډيزاين شوي دي.

۱٥. په لومړۍ ربعه کې د ۳۳ ولايتونو د محاکمو اداري کارکوونکو ته د خبر جوړولو اړوند روزنيز سيمينار ورکړل شوی دی.

۱٦. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې او ماتحت محاکمو د ۱٤٤٦ هـ ق کال د فعاليتونو راپور ايډيټ، ډيزاين او نشر شوی دی.

۱۷. په لومړۍ ربعه کې د عرايضو د طی مراحل لارښوود ډيزاين شوی دی.

۱۸. په لومړۍ ربعه کې رسنيو سره د محاکمو د مهمو راپورونو او خبري کليپونه شريکولو په موخه منظم ډيټابيس جوړ شوی دی.

۱۹. په لومړۍ ربعه کې (۷٦) ګڼې خبري بولټن ترتيب، ډيزاين او اړوند برخو ته لېږل شوی دی.

۲۰. په لومړۍ ربعه کې په کندهار ولايت کې د محاکمو مسؤولينو او قضائي غړو ته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) لخوا د جوړ شوي سيمينار بيانونه او هدايات ليکل شوي او ايډيټ شوي دي.

۲۱. په لومړۍ ربعه کې قانون اميري، فهرست خط نسخ لومړی او دوهم جلد، تحفة العلماء، اساس القضات، کشف الحقائق، مغتنم الحصول، فتاوای احمد شاهي، سراج الاحکام، منح الغفار، مکانة الامام ابي حنيفه، احکام السلطانية، مجاهد افغان، تاريخ افغانستان، سراج ارکان الاسلام او فصول العمادي کتابونه او (۱۰۰۰) قطعې د محررينو د پنځه ورځني سيمينار تصديق پاڼې، د سترې محکمې د مرکزي رياستونو او محافظتي قطعې لپاره (۱٤) جلده د متحدالمآلونو کتابونه، (۳۰۰۰) د کلينيک نسخې، (۱۸) جلده قوانين، (۲۳۳) بستې د داخلېدو او وتلو ټکټونه، (۳۰) جلده اصولنامې، (٤۷۸) جلده د مقام کتابونه او (۹۰۰) جلده قوانين، د متحدالمآلونو کتابونه، درسي نصابونه، د قضاتو او اداري کارکوونکو دوسيې چاپ، صحافت او توزيع شوي دي.

۲۲. په لومړۍ ربعه کې د محاکمو (۱۳۷) عنوانه راپورونه، (۱۳۱) د حقوقو عمومي رياست د محکوم له د عدم حضور خبرتياوې قيد وارده شوي دي.

۲۳. په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د يو شمېر مرکزي رياستونو/دېوانونو محافظتي قطعې لپاره د اړتيا وړ (۷۷۳۳۵) پاڼې فوتوکاپي شوي دي.

۲٤. په لومړۍ ربعه کې ازبيکستان هېواد ته د موټرو په نندارتون کې د ګډون په موخه د سترې محکمې د مسؤولينو سفر تنظيم شوی دی.

۲٥. په لومړۍ ربعه کې د جزائي، حقوقي، فاميلي، جنائي، د تذکرې ثبت محفوظ او د بهرنيو اتباعو د پاسپورټ، د بهرنيو اتباعو نکاح خط د ثبت محفوظ، له بهرنيو هېوادونو څخه د افغانانو د جلب، د سترې محکمې منسوبينو ته سياحتي پاسپورټونو، مجرمينو د استرداد، تدقيقي نظرونونو، د بهرنيو ترافيکو، د بهرني وکالت خطونو د ثبت محفوظ، د داخلي او بهرنيو ادارو د امضاء د نمونو، مسترد شويو موضوعاتو، وثايقو، افغاني پاسپورټونو د ثبت محفوظ، د افغان اتباعو د ممنوع الخروج، د افغان اتباعو د مدني حالت، د محاکمو قرارونه او فيصلو ليکونه د ثبت محفوظ، د جايدادونو د غصب غوښتنې او د بهرنيو ادارو د تجديد نظر اړوند د (۲۳٦) مکتوبونو په اړه اجراآت شوي دي.

۲٦. په لومړۍ ربعه کې (۹۰) جلده کتابونه چې مراجعينو د مطالعې په موخه له ځان سره وړي وو؛ بېرته قضاء کتابتون ته راوړل شوي او د کتابتون د مؤظف کس لخوا ترې بېرته تسليمي اخيستل شوې.

۲۷. په لومړۍ ربعه کې (۱۱۱) جلده کتابونه د امانت په ډول متقاضيانو ته ورکړل شوي دي.

۲۸. په لومړۍ ربعه کې د (۲۰) جلده کتابونو موده تمديد شوې ده.

۲۹. په لومړۍ ربعه کې د هغو قضائي غړو او اداري کارکوونکو د علم خبر(۱۷) پاڼې تصديق شوې چې له يوې اداري څخه بلې اداري ته تبديل او يا هم منفک شوي دي.

۳۰. په لومړۍ ربعه کې د کتابونو د لا ښه نظم په موخه ټول کتابونه د ابجد حروفو په اساس په الماريو کې تنظيم شوي.

## په کابل ولايت کې (٦٥) کيلو د انسان ويښتان وسوځول شول

د کابل ولايت اړوند د چهارآسياب ولسوالۍ ابتدائيه محکمې په حکم (٦٥) کيلو د انسان ويښتان؛ په ۲۲ / ٦/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه وسوځول شول.

ياده اندازه ويښتان د امنيتي ځواکونو د عملياتو پر مهال نيول شوي وو او وروسته يې دوسيه محکمې ته راجع شوه.

د ابتدائيه محکمې لخوا د ويښتانو د سوځولو حکم د تطبيق پر مهال د ابتدائيه محکمې، د فرامينو او احکامو د تطبيق څخه د نظارت، د امربالمعروف نهی عن المنکر او شکاياتو اورېدو او د قومندانۍ استازو په ګډون، ياده اندازه ويښتان وسوځول شول.

د ابتدائيه محکمې مسؤولينو ټينګار وکړ چې د انسان د ويښتانو ناقانونه راټولول او ساتل غير شرعي او غيرقانوني عمل دی او ورته قضيې به په راتلونکې کې هم تعقيب او وڅېړل شي.

**د راشده خلافت په دوره کې قضاء:**

**له علماوو څخه د ابو بکر ﷺ پوښتنه:**

کله چې به ابوبکرﷺ يو حکم په قرآنکريم او نبوي احاديثو کې پيدا نکړ؛ نو له نورو خلکو به يې پوښتنه وکړه او د خبرې په منلو کې ټينګ و.

د قبيصه بن ذؤيب څخه روايت دی، وايي: يوه انا (د مور، مور او يا د پلار مور) ابو بکر ﷺ ته راغله ورته ووېل چې زما د زوی زوی او يا زما د لور زوی مړه شوي او ماته يې دا خبر راکړی و، چې د الله تعالی په کتاب کې زما لپاره حق (ميراث) شته، ابوبکر ﷺ ووېل: ماته خو په قرآنکريم کې تا ته کوم حق نه معلومېږي او نه مې د رسول الله ﷺ څخه ستاسې په اړه څه اورېدلي دي؛ خو زه به له خلکو پوښتنه وکړم، پوښتنه يې چې وکړه، مغيره بن شعبه ﷺ ولاړ شو شاهدي يې ووېله چې رسول الله ﷺ (انا) ته شپږمه برخه ورکړې؛ نو ابوبکر ﷺ ووېل: بل څوک درسره شاهد و؟ او يا چا دا اورېدلي؟ محمد بن مسلمه ولاړ شو او شاهدي يې ووېله؛ نو ابوبکر ﷺ هم شپږمه برخه ورکړه. [رواه أحمد بن علي المروزي في مسند أبي بکر، رقم(۱۲۹)]

اخذليک: تتمة النظام، ٦۲ صفحه، تألیف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې دعوت او ارشاد ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې دعوت او ارشاد ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست لخوا د محاکمو د منسوبینو لپاره د اصلاحي برنامو په دوام، د سهار له لمانځه وروسته د مجاهدینو او منسوبینو لپاره د قرآنکریم د تفسیر او ترجمې درسونه دوام لري؛ چې د ګډونوالو د دیني پوهاوي، فکري اصلاح او روحاني وده کې مهم رول لري.

۲- په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست له لوري د دیني نصاب چې په کې د اسلامي احکامو، فقهي مسائلو، شرعي لارښوونو، معاصر اسلامي فکر، عقیدوي وضاحت او اخلاقي اصلاحاتو موضوعات ځای پر ځای شوي، تدریس شوی؛ څو د کارکوونکو دیني روزنه له فکري زاویې سره بشپړه شي.

۳- په لومړۍ ربعه کې د دیني اصلاح او معنوي بیدارۍ د پیاوړتیا لپاره، د سترې محکمې د مرکزي محاکمو، امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست لپاره د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې منظم اصلاحي بیانونه شوي، چې په ترڅ کې یې د عدالت تأمین، اداري اخلاقو او سلوک، د فساد مخنیوي، د دیني اصولو مراعات او د اسلامي نظام د تطبیق اهمیت په واضحه توګه تشریح کېږي.

۴- په لومړۍ ربعه کې د هغو کارکوونکو لپاره چې نالوستي یا کم سواده دي، ځانګړې دیني حلقې جوړې شوې، ترڅو اسلامي عقاید، لمونځ، روژه، زکات او نورو اساسي احکام ور زده کړل شي. د لیک لوست د مهارتونو لوړولو لپاره، د اسلامي نصوصو پر بنسټ ابتدائي کورسونه پیل شوي، چې له لارې یې نالوستو کارکوونکو ته د دیني زده کړو ترڅنګ، د لیک لوست عملي زده کړه هم ورکول کېږي.

۵- په لومړۍ ربعه کې د کارکوونکو د اصلاح او اخلاقي پرمختګ په برخه کې، د سیرت، اخلاقو او اداري نظم جدي څارنه شوې، د دیني ارزښتونو پر بنسټ هغوی ته اخلاقي مشورې، سپارښتنې او د مسؤولیتونو د اداینې ترغیب ورکړل شوی، دغه راز د اسلامي اخلاقو، د اداري فساد مخنیوي، او د عدالت تأمین اړوند مهم اصول، نظامي او اداري کارکوونکو ته په واضح ډول بیان شوي، څو د شرعي معیارونو پر بنسټ د نظام اصلاح تضمین شي.

۶- په لومړۍ ربعه کې د دیني زده کړو د ارزونې په موخه، په ربیع الأول میاشت کې د مرکزي ریاستونو د منسوبینو زده کړې ارزول شوې او څلورنیم میاشتنۍ ازموینه ترې واخېستل شوه.

۷- دغه راز په لومړۍ ربعه کې د سترې محمکې د محترمو شیوخ کرامو، رئیسانو، آمرینو، قاضیانو او قضائي غړو لپاره د مذاکرې په ډول درې جلسې جوړې شوې دي.

۸- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د دعوت او ارشاد ریاست د محترم رئیس په مشرۍ یو پلاوي د ټول ملک د مرافعه محاکمو د کارکوونکو او هلته د دعوت او ارشاد ریاست د فعالیتونو د نظارت په موخه سفر پیل کړ؛ چې تر اوسه یې د (۱۲) ولایتونو ( بامیان، دایکنډي، غور، بادغیس، هرات، فراه، نیمروز، هلمند، کندهار، روزګان، زابل او پکتیا) له مرافعه محاکمو څخه نظارت کړی او دا نظارت همداسې جریان لري، تر څو د ټولو ولایتونو نظارت وشي.

## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د هغه وړاندیز په اساس چې د کابل ښاروالۍ عمومي ریاست ته د تعلیمي مرکز میدان د جوړولو په موخه شوی و؛ د یاد ریاست له لوري یې سل سلنه کار بشپړ شوی.

۲- په لومړۍ ربعه کې د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ اړوند نیمه کاره تعمیراتو دېرش ۳۰ سلنه چارې بشپړې شوې دي.

۳- په لومړۍ ربعه کې د اجناسو د ساتنې په موخه (۱۴) کانټینرونه خریداري او اکمال شوي.

۴- په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست او اړوند جزوتامونو د نظامي پرسونل یونیفورم د ګنډلو چارې بشپړې او د توزیع بهیر یې روان دی.

۵- په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست کاري طرزالعمل د تاکل شوي هیئت له لوري ترتیب او د اصلاح په موخه د یاد ریاست رئیس سره شریک شوی، چې وروسته به د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شي.

۶- په لومړۍ ربعه کې د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ اړوند نیمه کاره تعمیراتو (۹۵) سلنه چارې بشپړې شوې او په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

۷- په لومړۍ ربعه کې د (۶) قلمه اجناسو قرارداد د سترې محکمې عالي مقام له لوري د توظیف شوي هیئت له لوري تائید او نهائي شوی.

۸- په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست اړوند مرکزي او ولایتي نظامي پرسونل ته د دوه میاشتنۍ مسلکي او نظامي معسکراتي زده کړې پنځه دورې ورکړل شوې.

۹- په لومړۍ ربعه کې د یاد ریاست اداري کارکوونکو ته د مسلکي پرمختګ او ظرفیت لوړونې په موخه، یو (۱۵) ورځنی عملي روزنیز سیمینار ورکړل شوی او د یاد ریاست په ګډون د نظامي او ملکي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندانیو پرسونل ته د تخنیکي او مسلکي نیمه زده کړو ترسره کولو په موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري سره په تفاهم په درېیو ټولګیو کې ترتیب او درسونه یې په منظم ډول جریان لري.

۱۰- په لومړۍ ربعه کې د ملکي او نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندانیو څخه نظارت او ارزونه شوې او د اداري ستونزو د حل په موخه د همغږۍ غونډې شوي دي.

۱۱- په لومړۍ ربعه کې د (۱۶۰۵۸۷) لیتره پطرول او ډیزل تیل، (۸۰۰۳) کیلو مایع ګاز او (۹۲۳) کواټره مبلایل د مرکز، ولایاتو او اتو زونونو امنیتي قطعاتو ته اکمال او توزیع شوي.

۱۲- په لومړۍ ربعه کې د (۶۰۰) قلمه مفروشاتي، محروقاتي او تعمیراتي اجناس د یاد ریاست اړوند د ملکي او نظامي محاکمو د قطعاتو قوماندانیو ته توزیع شوي.

۱۳- دغه راز د یاد ریاست اړوند د ملکي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانۍ او د نظامي محاکمو امنیتي قطعاتو قوماندانې په جزوتامونو کې د مجاهدینو تقرر په افسرۍ، ساتنمنۍ او ساتونکو بستونو کې د لیاقت، وړتیا او کادري فورم په اساس ترسره کېږي.

۱۴- په لومړۍ ربعه کې د نظامي محاکمو د حکمونو په اساس (۱۱۶۳) مجرمین محبسونو ته لېږل شوي دي.

۱۵- په لومړۍ ربعه کې (۲۲۶) قلمه البسوي او قرطاسیوي توکي وېشل شوي دي.

۱۶- په لومړۍ ربعه کې (۱۵۴) کسانو نوي مقرر، (۸۵) کسانو ته کشفي استعلامونه او (۱۸۰) تنه د (افسرانو، ساتنمنانو او ساتونکو) په بستونو کې منفک شوي.

۱۷- په لومړۍ ربعه کې (۱۳۳) تنو ته تقاعد حواله شوی او (۲) تنو ته اکرامیه حواله شوي.

۱۸- په لومړۍ ربعه کې (۸۲) مخابرې او وسایل ترمیم، تنظیم او پروګرام شوي او د (E۱) سیستم جوړ شوی دی.

۱۹- د قضائي ستاژ د قضاتو امنیتي بلوک قوماندانۍ کې (۵۰۰) تنه قضائي شعبو اداري کارکوونکو ته اداري سیمینار لپاره امنیت په بشپړ ډول تامین شوی.

۲۰- په لومړۍ ربعه کې د نظامي محاکمو د حکم پر اساس (۳۷۵۸) جلبونه لېږل شوي او (۳۹۹۳) تنه مجلوبین د تلیفوني اړیکو له لارې جلب او د نظامي پرسونل لخوا حاضر شوي.

۲۱- په لومړۍ ربعه کې (۵۰۷۵۱) تنه مراجعین ثبت او امنیت یې خوندي شوی.

## د سترې محکمې د پلان او پالیسۍ ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د پلان او پالیسۍ ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه سرته رسولي دي:

۱- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو اړوند د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې د پلاني او غیر پلاني فعالیتونو راپور ترتیب او اړونده مراجعو ته ولېږل شو.

۲- په لومړۍ ربعه کې د پلان مطابق له دوهمو واحدونو څخه د میاشتني راپور راټولولو لړۍ له ۳۴ ولایتونو مرافعه محاکمو څخه په دوامداره توګه جریان لري؛ چې راپورونه یې تر توحید وروسته اداري معاونیت، قضائي تفتیش عمومي ریاست او د کارکوونکو چارو عمومي ریاست ته د بعدي اجراآتو لپاره لېږل شوي؛ همداراز د ۱۴۴۶ هـ ق کال د څلورمې ربعې اړوند د میراث او ملکیت حق ته د ښځو د لاس‌رسي اختصاصي ربعوار راپور ترتیب او د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو اورېدو وزارت، د چارو اداري لوی ریاست، د سترې محکمې عالي مقام د دفتر لوی ریاست او د سترې محکمې اداري معاونیت ته لېږل شوی.

۳- په لومړۍ ربعه کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د څلورمې ربعې اړوند احصائیوي فورمونه تر ډکولو وروسته د احصائیې ملي اداري ته لېږل شوي.

۴- په لومړۍ ربعه کې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د غوښتنې په اساس د ۱۴۴۶ هـ ق کال د څلورمې ربعې د مرکزي ریاستونو د فعالیتونو راپور ترتیب، توحید او په قضاء مجله کې د چاپ او نشر په موخه ور ولېږل شو.

۵- په لومړۍ ربعه کې د ۳۴ ولایتونو د مرافعه محاکمو د ۱۴۰۴ هـ ش کال د دویمې ربعې (سرطان، اسد او سنبلې میاشتو) د حاضرۍ راپور ترتیب او اړوند مراجعو ته ولېږل شو .

۶- په لومړۍ ربعه کې د یو کلن پلان مطابق د مرکزي ریاستونو د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې د پلاني او غیر پلاني فعالیتونه راپور ترتیب او د چارو اداري لوی ریاست ته ولېږل شو.

۷- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو د ۱۴۰۴ هـ ش کال د لومړۍ او دویمې ربعې له فعالیتونو څخه د نظارت او ارزونې لپاره چک لېستونو ترتیب او اړوند ریاستونو ته لېږل شوي، چې د پایلو تر را ټولولو وروسته به یې راپور د سترې محکمې له عالي مقام سره شریک شي.

۸- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې د کلني پلان له مخې د پالیسیو، طرزالعملونو، لارښوونو او موجوده اړینو میکانیزمونو د معلوماتو راټولولو لپاره پوښتنلیکونه ترتیب شول.

۹- په لومړۍ ربعه کې د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لپاره د پلان مطابق د مرکزي ریاستونو د اداري فعالیتونو د څارنې پروسه په حضوري ډول پیل شوې او د اوومې حوزې د وثایقو محاکمو لپاره د بلاک جوړولو له پروژې، د سترې محکمې د محاکمو د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست په احاطه کې د دوه منزله تعمیر د ترمیم له پروژې، د قضائي زده کړو په عمومي ریاست کې د مسجد شریف د جوړولو له پروژې، د وثایقو په محاکمو کې د دفترونو د جوړولو له پروژې، د کابل ولایت په ښاري ابتدائیه محکمه کې د فلزي قفسچو جوړولو له پروژې، د کابل ولایت په مرافعه محکمه کې د تجارتي دېوان مجاهدینو ته د یو باب اطاق او اشپزخانې جوړولو له پروژې څخه څارنه ترسره شوې ده.

۱۰- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې له دېوانونو، د (۳۴) ولایتونو د مرافعه او ابتدائیه محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال څلورمې ربعې د قضائي اجراآتو اړوند راپور ترتیب او د سترې محکمې د عالي مقام د دفتر لوی ریاست، د مرکزي او جنوب غرب زون د تفتیش عالي ریاستونو، د مرکزي او جنوب غرب زون قضائي معاونیتونو، اداري معاونیت، نظامي معاونیت او د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست ته ولېږل شو.

۱۱- په لومړۍ ربعه کې د (۳۴) ولایتونو د محاکمو د ۱۴۴۶ هـ ق کال څلورمې ربعې د قضائي اجراآتو راپور ترتیب او د مالي او اداري چارو لوی ریاست ته ولېږل شو.

۱۲- په لومړۍ ربعه کې د اسلامي امارت له فتحې څخه وروسته د ۱۴۴۶ هـ ق کال تر پای پورې د پیسو د مینځلو، مالیاتي جرایمو او نشه‌یي توکو اړوند موضوعاتو ته د رسېدنې راپور ترتیب او د سترې محکمې عالي شورا او د دارالانشاء لوی ریاست ته ولېږل شو.

۱۳- په لومړۍ ربعه کې د کابل ولایت د مرافعه محکمې د اړتیا وړ (۴) قلمه خوراکي موادو او د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د اړتیا وړ (۴) قلمه البسې د تدارک دوسیې ارزیابي شوې؛ چې د سترې محکمې عالي مقام تر منظورۍ وروسته د تدارکاتو آمریت ته وسپارل شوې.

۱۴- په لومړۍ ربعه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) او ریاست الوزراء عالي مقام د (۵۴) قطعي احکامو اړوند راپورونه ترتیب شوي؛ له دې جملې څخه (۱۰) راپورونه د چارو اداري لوی ریاست او (۴۴) نور راپورونه د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست ته لېږل شوي دي.

۱۵- په لومړۍ ربعه کې د ریاست الوزراء عالي مقام د هدایاتو اړوند (۳) قطعي راپورونه ارائیه شوي دي.

۱۶- په لومړۍ ربعه کې د سترې محکمې په قضائي او اداري برخو کې له مهرونو څخه د استفادې طرزالعمل مسوده تدوین او د تدقیقي نظر وړاندې کولو په موخه د تدقیق او مطالعاتو لوی ریاست ته ولېږل شوه.

## د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د لومړۍ ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق په لومړۍ ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي تدقيق رياست د (۳۳۸) جزائي، مدني، تجارتي، وثايقو، متفرقه استهدااتو ،قضائي پلټنې عمومي رياست راپورونو، عارضينو د عرايضو، مکتوبي او مستردې استهدائي موضوعاتو په تړاو تدقيقي نظرونه وړاندې کړي دي.

۲ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د اسلامي امارت د بين الحکومتي شوراکاسا زر (۱۰۰۰) انتقالي لين د پروژې د هوکړې مسوده د قضائي مدققينو تر غور او تحقيق لاندې ونيول شوه؛ په اړه يې شرعي نظر ترتيب او د بعدي اجرااتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شوه.

۳ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د اسلامي امارت د لاجوردو د لارې د اوسپنې پټلۍ د لېږد را لېږد د پروتوکول مسودې هوکړه ليک د قضائي مدققينو تر غور او تحقيق لاندې ونيول شو؛ په اړه يې شرعي نظر ترتيب او د بعدي اجرااتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شو.

۴ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د اسلامي امارت د کابل پوهنتون او د ايران د فرهنګ او اړيکو سازمان ترمنځ د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د دري ډيپارټمنټ د نيمه کار بشپړولو په موخه د همکارۍ د هوکړې يادښت د قضائي مدققينو تر غور او تحقيق لاندې ونيول شو؛ په اړه يې شرعي نظر ترتيب او د بعدي اجرااتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شو.

۵ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست قضائي مدققينو د سترې محکمې د جزاء ديوان د فعاليتونو او اجرااتو د تنظيم کړنلاره د قوانينو په چوکاټ کې ترتيب او د تصويب په موخه د سترې محکمې عالي شورا ته وړاندې شوه.

۶ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د (۴۶۲ ـ ۴۵۸۶) ګڼې او ۱۴۴۷/۸/۴ هـ ق نېټې حکم په اساس، قضائي مدققينو د صلحې طرزالعمل ترتيب، تنظيم او د هرې مادې شرعي تخريج يې وکړ او د بعدي اجرااتو په موخه د سترې محکمې عالي شورا ته وړاندې شو.

۷ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د اسلامي امارت د علومو اکاډمۍ او د ايران د ملي کتابتون ترمنځ د همکارۍ د هوکړې يادښت د قضائي مدققينو له غور او تحقيق وروسته په اړه شرعي نظر ترتيب او د وروستيو اجرااتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام سره شريک شو.

۸ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د اسلامي امارت د لاجوردو لارې د هوکړه ليک په اساس د صدور په بهير کې د اسانتياوو رامنځته کولو د پروتوکول مسوده د قضائي مدققينو له غور او تحقيق وروسته په اړه شرعي نظر ترتيب او د وروستيو اجرااتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام سره شريک شو.

۹ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د (۱۶۶۱ ـ ۶۳۴۶) ګڼې د ۱۴۴۶/۱۱/۱۴ هـ ق نېټې حکم او د سترې محکمې عالي مقام د لارښوونې په اساس د مرکزي زون نظامي محکمې د اداري فساد قضيو ته د رسېدنې طرزالعمل کتاب ترتيب، تنظيم او د سترې محکمې عالي شورا ته د تصويب په موخه وړاندې شو.

۱۰ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د سترې محکمې عالي مقام د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان المبارک د مشورتي غونډې څلورمې پرېکړې دويم جز د هدايت په اساس قضائي مدققينو د (يد حادثه او يد قديمه) صورتونه په تفصيلي ډول واضح او ماده وار شکل د ترتيب او تحرير وروسته د سترې محکمې عالي شورا ته د تصويب په موخه وړاندې کړل.

۱۱ـ په لومړۍ ربعه کې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست اړوند قضائي او حقوقي مطالعاتو رياست د سترې محکمې عالي مقام د حکم په اساس د قضائي تدقيق رياست غړو تر فتحې وروسته؛ د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست لخوا محاکمو ته د لېږل شويو ټولو متحدالمآلونو شرعي تخريج وکړ او د کتاب په بڼه يې ترتيب او د سترې محکمې محترم عالي مقام ته يې وړاندې کړ.

د يادونې وړ ده چې ياد عمومي رياست د ټولو بهرنيو هوکړه ليکونو په اړه هم له غور او تحقيق وروسته خپل نظرونه د سترې محکمې له عالي مقام سره شريک کړي دي.

## دکابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې (۲۴۱۱) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي رياست اړوند د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې له ( ۱۴۴۷/۵/۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۷/۵/۳۰ هـ ق) نېټې پورې (۲۴۱۱) عرض‌پاڼو او دوسيو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۱۶۴۸) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۱۳۷) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۴۶۱) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۹۵) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۹۵۵) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسيو په برخه کې:**

د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۷۶۳) دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۵۵) دوسيې تطبيق شوې، (۱۳۹) دوسيې محاکمو ته لېږل شوې، (۹۲) دوسيې نورو ادارو ته راجع شوې، (۴۷۷) دوسيې حفظ شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

## محاکم ولايت بغلان طی يک ماه علاوه بر رسيدگی به (۹۲۲) دوسيه، به تعداد (۳۸۵) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولايت بغلان، دواوين مرافعه، وثايق، ابتدائيهٔ شهری و ابتدائيهٔ ولسوالی‌ها از تاريخ ( ۱/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثايق به شرح ذيل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۶۸۰) دوسيهٔ حقوقی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۵۹) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسيه فيصله شده، (۸۴) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۲۴۴) دوسيهٔ جزائی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۱۰) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۶۰) دوسيه فيصله شده، (۱۰) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثايق:**

در جريان يک ماه در محاکم ولايت بغلان به تعداد (۳۸۵) قطعه وثايق مختلف النوع نيز اجرا گرديده‌است.

## محاکم ولايت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسيدگی به (۲۳۹) دوسيه، به تعداد (۲۲۸) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولايت جوزجان، دواوين مرافعه، وثايق، ابتدائيهٔ شهری، نظامی، اختصاصی و ابتدائيهٔ ولسوالی‌ها از تاريخ (۱۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثايق به شرح ذيل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۱۲۹) دوسيهٔ حقوقی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۱۶) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۴۵) دوسيه فيصله شده، (۴) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جريان دو هفته به تعداد (۷۴) دوسيهٔ جزائی وارد محاکم گرديده؛ در حاليکه قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۱) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۳۲) دوسيه فيصله شده، (۱) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثايق:**

در جريان دو هفته در محاکم ولايت جوزجان به تعداد (۲۲۸) قطعه وثايق نيز اجرا گرديده‌است.

## د زابل ولايت محاکمو په دوو اونيو کې (۱۷۰) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۴) وثيقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولايت د مرافعه، ښاري ابتدائيه، نظامي او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په دوو اونيو کې (له ۱۶/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۱۷۰) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۶۴) وثيقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونيو کې (۱۷۵) حقوقي دوسيې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۳) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۶) دوسيې فيصله شوې، (۵) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونيو کې (۵۷) جزائي دوسيې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۲) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۱) دوسيې فيصله شوې، (۳) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د زابل ولايت محاکمو په دوو اونيو کې (۶۴) بېلابېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## د خوست ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۴۷۶) دوسيو ته رسېدنه کړې او (۳۵۶) وثيقې يې هم اجرا کړې دي

د خوست ولايت مرافعه، ښاري ابتدائيه، اختصاصي او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې (له ۱/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۴۷۶) دوسيو ته رسېدنه کړې او (۳۵۶) وثيقې يې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۴۷) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۶) دوسيې فيصله شوې، (۳۶) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۶۶) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۴۰) دوسيې فيصله شوې، (۱۱) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د خوست ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۳۵۶) بېلابېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## دکابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۱۸) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پریکړې له مخې (۱۸) کسانو ته د نشه‌يي تابلیتو (ذیکپ، تابلیت کا)، شیشې، الکولي مشروباتو او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، په ۲۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له ۷ میاشتو څخه تر ۳ کالو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پریکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای پنج مجرم در ولایت کاپیسا تطبیق شد

به اساس فیصلۀ محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی حصۀ اول کوهستان ولایت کاپیسا بالای پنج تن به شمول دو زن به جرم داشتن روابط نامشروع؛ به تاریخ ۲۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمۀ ابتدائیه مجرمین را به ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور محترم مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمۀ مرافعه، محترم مولوی عبدالرؤف (سعادت) رئیس محکمۀ ابتدائیۀ شهری، شیخ محمد شاکر (عابد) رئیس محکمۀ ابتدائیۀ ولسوالی مذکور، ولسوال، قوماندان امنیه و تعدادی از مسؤولین ادارات امارتی تطبیق شد.

این گردهمایی بعد از تطبیق حکم با دعاء رئیس محکمۀ مرافعه به پایان رسید.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار مجرم و متهم در ولایت بامیان تطبیق شد

به اساس فیصلۀ محکمۀ ابتدائیه شهری ولایت بامیان بالای چهار تن به شمول دو زن به جرم داشتن روابط نامشروع و اتهام زنا، روز شنبه مؤرخ ۲۹/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمۀ ابتدائیه دو مجرم را به شش - شش ماه حبس تنفیذی و از ۱۵ تا ۳۵ دُره و دو متهم را از یک تا دو سال حبس تنفیذی و ۳۵- ۳۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند.

این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## په کونړ ولایت کې (۱۷) مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کونړ ولایت د محاکمو د پریکړو په اساس (۱۷) کسانو ته د نشه‌يي توکو د استعمال په جرم او لواطت په تور، د یکشنبې په ورځ (۳۰/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټه د مرافعه محکمې د رئیس او د محاکمو او نورو امارتي ادارو د مسؤولینو او منسوبینو په حضور کې، تعزیري سزا ورکړل شوه.

یاد مجرمین او متهمین د مرافعه محکمې د عامه امنیت او جزا دېوانونو او ښاري ابتدائیه محکمې د عامه امنیت دېوان لخوا له یوه کال څخه تر دوه کاله پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم شوي وو.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې د کونړ د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالکریم (شعیب) د اسلامي شریعت په رڼا کې د حدودو او تعزیراتو د تطبیق پر ګټو خبرې وکړې وویل، دا څو کاله جهادي مبارزه په همدې خاطر وه، چې اسلامي شریعت حاکم شي؛ ځکه چې اسلامي شریعت د عقل، مال، نفس او نسب په ساتنه ټینګار کوي او د یادو مواردو تحفظ د حدودو او تعزیراتو د تطبیق په صورت کې ممکن دی.

دغه راز د کونړ ولایت د مرافعه محکمې د جزا دېوان رئیس د ناستې ګډونوالو ته په وینا کې اسلامي امارت یو لوی نعمت وباله.

بندیانو ته په اشاره یې وویل، اسلامي امارت پر بندیانو ډېر شفقت کوي، له بندیانو سره ظلم زیاتی نشته، بندي چې کله ازادېږي د هغه مکمله اصلاح شوې وي، نو بندیان باید له دې حالت عبرت واخلي او بیا جرم ونه کړي.

د یادونې وړ ده چې پر یادو مجرمینو او متهمینو د تعزیري سزا حکم د سترې محکمې له تائید وروسته تطبیق شو.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت فاریاب تطبیق شد

به اساس فیصله محکمه ابتدائیه پشتونکوت ولایت فاریاب بالای یک تن به جرم تجاوز بر حریم خصوصی؛ به تاریخ ۲/ ۷/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمه ابتدائیه مجرم را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور رئیس محکمه ابتدائیه، اعضای قضائی، علماء کرام، مسؤولین ملکی، نظامی و جمع کثیری مردم عام تطبیق شد.

## د زابل ولایت شهرصفا ولسوالۍ ابتدائیه محکمې په هڅو د قتل دوه موضوعات حل او فصل شول

د زابل ولایت شهرصفا ولسوالۍ ابتدائیه محکمې مسؤولینو په ډېرو هڅو؛ د قومي مشرانو او سپین ږیرو په منځګړیتوب، د ترافیکي پېښو له امله رامنځته شوې د قتل دوه موضوعات، د ۱۴۴۷ هـ ق کال د جمادی الآخرة میاشتې په ۲مه او ۱۵ مه نېټه حل او فصل شول.

یادې ترافیکي پېښې د مازدا، پاسو، ټیلر او بابوجي موټرو د ټکر له امله رامنځته شوې وې، چې دوه نفره پکې په شهادت رسېدلي وو.

یاد موضوعات ابتدائیه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شول.


ورپسې د ابتدائیه محکمې رئیس مفتي عزیزالله (افغان) طرفینو ته د سولې ترغیب ورکړ او د قاتلینو لخوا د مقتولینو وارثینو ته یوه اندازه دیت ورکولو وروسته یې ورته بخښنه وکړه او دواړه موضوعات رسماً پای ته ورسېدل.


## با تلاش رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کاپیسا دشمنی (۱۷) ساله میان دو خانواده خاتمه یافت


با تلاش محترم مولوی عزیزالرحمن (حقانی) رئیس محکمۀ مرافعۀ ولایت کاپیسا؛ در حضورداشت معاون مقام ولایت، آمر امور سرحدات و قبایل، آمر امنیت قوماندانی، رئیس استخبارات، رئیس شورای علماء ولایت کاپیسا و محاسن سفیدان، به تاریخ ۱/ ۷/ ۱٤٤۷ هـ ق دشمنی ۱۷ ساله میان دو خانواده حل و فصل گردید.

مجلسِ که به همین مناسبت برگزار گردیده بود در آن طرفین تن به صلح داده، یک دیگر را در آغوش گرفته و مورد عفو و بخشش قرار دادند، تعهد سپردن من بعد چنین عمل صورت نخواهد گرفت.

قابل یادآوری است که این دشمنی ۱۷ سال میان دوه خانواده مسکونۀ قریۀ "ده نو" ولسوالی حصۀ دوم کوهستان مسکونین مرکز کاپیسا قریۀ "کره تاز" به وقوع پیوسته بود؛ که به اساس آن یک تن زخمی و سه تن به قتل رسیده بود.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳